د افغانستان اسلامی جمهوریت

د تخنيکي او مسلکي زده کړو خپلواکه اداره

د پکتيا د تخنيکي او مسلکي زده کړو آمریت

د پکتيا کثیرالرشتوی انسټیټیوټ

د کمپیوټر سائنس څانګه

# Windows 7

**استاد : احمدولی "نوا"**

**د محصیل نوم :ـــــــــــــــــــ**

**صنف : اول**

**سمستر : دوهم**

**کال-------------------------------------------------------------------------------- ۱۳۹۹ ه ش**

بسم الله الرحمن الرحيم

## Computer

کمپیوټر هغه بریښنایز ماشین دی چې د هغه په واسطه باندی بانکی او دفتری کارونه سرته رسوو. او یا هغه بریښنایز ماشین دی چې موږ معلومات ورکوو په هغو معلوماتو باندی عملیه اجراه کوی او بیرته موږ ته نتیجه په لاسره راکوی.یا په بل ډول کمپیوټر د Compute له کلمی څخه اخستل شوی دی چې د شمیرلو په معنا دی او د محاسبی لپاره استفاده کیږی.

## Windows


دا د کمپیوټر روح دی او بغیر له Windows څخه کمپیوټر د استفادی وړ نه دی. یعني په لنډ ډول باندي داسي ویلي شو چي windows هغه پرګرام یا سافټویر چي کمپیوټر ته د کار کولو وړتیا ور په برخه کوي. چې په ترتیب سره یی په لاندی ډول باندی واضیح کوو.

## Notepad

دا یو ډیر عادی پروګرام دی چې د لیکلو لپاره استفاده کیږی. د راخلاصولو طریقه یی په لاندی ډول دی.

- start->All program->Accessories-> Notepad
- Start-> Search->Notepad
- Start-> Run-> Notepad

## Caption or control button



- Close button: پروګرام بندوی



- Restore down and



- Maximize button



Minimize button ټوله صفحه د Taskbar ښتني ته راټولوی

- Title bar په ټوله صفحه کې له لوړ طرف څخه اولنی پټي ته ویل کیږی.
- Menu bar دوهمی پټي ته ویل کیږی.
- Working area هغه ځای دی چی موږ لیکل پکی کوو.
- Cursor هغه علامه دی چی په Working area کې زموږ موقیعت ښی.
- نوی لین ته په Enter سره ښکته کیږو.
- Scroll bar هغه علامه دی چی صفحه ښکته او پورته بیایی چی عمودی ته Vertical scrollbar ویل کیږی او افقی ته Horizontal scrollbar ویل کیږی.

کله چی موږ یو فایل ذخیره کوو نو ددی لپاره File menu ته ځو او په Save باندی کلیک کوو چی په دی ځای کې باید دری خبری په نظر کې ونیسو.

1. د فایل د ذخیره کولو لپاره ځای مشخصوو.
2. نوم ورته مشخصوو.
3. په Save بټن باندی کلیک کوو.

هر کله چی وغواړو ذخیره شوی فایل راخلاص کړو نو په لاندی طریقو سره یی راخلاصوو.

- په فایل باندی Right click کوو او د Open بټن وهوو.
- په فایل باندی Double کلیک کوو.
- فایل ته ځو په Open باندی کلیک کوو.

**File menu**: فایل دوسیی ته ویل کیږی او په دی مینو کی لاندی فرعی مینوګانی موجودی دی .

**نوټ** : هغه فرعی مینوګانی چی نقطی(...)لری هغه په ځان کې نوری فرعی مینوګانی هم لری.

| شماره | منیو | Shortcut | تشریح |
|---|---|---|---|
| 1 | New | Ctrl+N | د نوی صفحی د راخلاصولو لپاره استفاده کیږی. |
| 2 | Open... | Ctrl+O | د ذخیره شوی فایل د راخلاصوول لپاره استفاده کیږی. |
| 3 | Save | Ctrl+S | د یوه فایل د ذخیره کولو لپاره استفاده کیږی. |
| 4 | Save ... as | | یو فایل په څو نومونو او څو ځایونو کې د ذخیره کولو لپاره استفاده کیږي. |
| 5 | Page setup... | | په دی مینو کې موږ کمپیوټر په دی باندی پوهو چی موږ کوم ډول پرنټر غواړو او د کوم سایز کاغذ څخه استفاده کوو او نوری فرعی مینوګانی هم لری<br>• Size د کاغذ سایز او اندازه ورته مشخصوو.<br>• Source پرنټر کاغذ له کوم ځای څخه باید راواخلی.<br>• Tray د پرنټر هغه ځای دی چی کاغذ پکی اینبودل کیږی.<br>• Orientation په دی کې موږ دا مشخصوو چی په کاغذ باندی لیکنه په عمودی او که په افقی ډول باندی چاپ شی.<br>عمودی Portrait افقی Land scape<br>• Margin د صفحی هر طرف ته خالی ځای پریښودلو ته ویل کیږی<br>• Preview صفحه راته ښیی. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 6 | Print... | Ctrl+P | د یوي لیکني یا یوه لیکل شوي فایل د پرنټ کولو لپاره استعمالیږی دا مینو لاندی څو فرعی مینوګانی لری<br>• Select Printer د پرنټر انتخابول.<br>• Page range څومره صفحی چاپ کوی. All ټولی چاپوی.<br>• Selection انتخاب شوی صفحی چاپ کوی.<br>• Current page هغه صفحه چاپ کوی چی اوس پکی ولاړ یوو.<br>• Pages ددی په واسطه موږ مختلفی صفحی چاپ کولی شو لکه ۱،۲،۱۰،۱۵،۲۰ او داسی نور.<br>• Number of copiesڅو واری یی چاپوی.<br>• Collate ددی په فعالولو سره د کاپی په اندازه باندی په منظم ډول له اول څخه تر اخیری پوری چاپ کیږی.او که چیری غیر فعال وی بیا لومړی اوله صفحه د کاپی په اندازه سره چاپوی بیا دوهمه همداسی تر اخیری پوری.<br>• Print to file دا داسی کار کوی لکه save as یعنی کوم فایل ته یی ور پرنټ کړو. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | • Preference دا دی په خاطر نه ویل کیږی چی په دی کې د پرنټر settingکیږی او د هر پرنټر settingمختلف وی.<br>• Find printer ددی لپاره استفاده کیږی چی په نیټورک کې شیر شوی پرنټر راته پیدا کړی. |
| 7 | Exit | | له صفحی څخه مو وباسی. |

**Notepad button** دا د صفحی په کونج کې موقیعت لری او لاندی بټنی پکی موجودی دی.

- Restore داسی کار کوی لکه Maximize
- Move غواړو چی پروګرام هری خواته د غشو په واسطه باندی یوسو.
- Size د صفحی اندازه د غشو په واسطه باندی کمولی او زیاتولی شو.

**Edit Menu**: Edit تغیر کولو ته ویل کیږی.دا مینو لاندی فرعی مینوګانی لری.

| شماره | مینو | Shortcut | تشریح |
|---|---|---|---|
| 1 | Undo | Ctrl+Z | لیکل بیرته خپل لومړنی حالت ته وړی. |
| 2 | Cut | Ctrl+X | انتخاب شوی لیکنه په مکمل ډول له هغه ځای څخه لیری کوی. |
| 3 | Copy | Ctrl+C | د انتخاب شوی لیکنی څخه یوه کاپی اخلی. |
| 4 | Past | Ctrl+V | Cut او Copy شوی لیکنه په بل ځای کې اچوی. |
| 5 | Delete | Del | انتخاب شوی لیکنه له منځه څخه وړی. |
| 6 | Find... | Ctrl+F | په ډیره لیکنه کې د مشخصی لیکنی او لغات د پیداکولو لپاره استعمالیږی.او لاندی فرعی مینوګانی پکی موجودی دی. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | • Find with په دی کې مشخصه لیکنه او لغات ورته لیکو.<br>• Direction up له همدی لغات څخه یی پورته پیدا کوی. Direction Down له همدی لغات څخه یی ښکته پیدا کوی.<br>• Match case د غټو او کوچینوی تورو د مقایسه کولو لپاره استعمالیږی. |
| 7 | Find next | F3 | په لیکنه کې وروستی لیکنه پیدا کوی. |
| 8 | Replace | Ctrl+H | یو لغات په بل لغات باندی بدلوي ددی په داخل کې لاندی مینوګانی موجودی دی.<br>• Find with هغه لغات لیکو پکی لیکو چی موږ یی تغیرکوو.<br>• Replace with دلته هغه لغات لیکو چی موږ غواړو د بل لغات پر ځای یی ولیکو.<br>• Find next دا یی پیدا کوی.<br>• Replace دا یی په هغه ځای لیکی.<br>• Replace all په لیکنه کې د ټولو لغاتو پر ځای یی لیکی.<br>• Match case د غټو او کوچینیو تورو مقایسه کوی. |
| 9 | Go to... | Ctrl+G | دا په اتومات ډول غیر فعال وی د فعالولو لپاره یی په Format menu کې Word wrap غیر فعالوو او ددی لپاره استفاده کیږی چی په لیکنه کې له یوی کرښی څخه بلی کرښی ته لاړ شو. |
| 10 | Select all | Ctrl+A | په صفحه کې ټوله لیکنه او معلومات انتخابوی. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 11 | Time/Date | F5 | د لیکنی په پای کې د کمپیوټر د Time او Date د لیکلو لپاره استفاده کیږی. |

❖ **Format menu:** د رنګ او سټایل ورکولو لپاره استفاده کیږی.او لاندی مینوګانی لری.

| شماره | مینو | تشریح |
|---|---|---|
| 1 | Word wrap | ددی menu په فعالولو سره لیکنه په صفحه کې په عمودی ډول راښکته کیږی او چی کله غیر فعاله وی بیا لیکنه په صفحه کې په افقي ډول ځي. |
| 2 | Font | دا مینو د خط اندازه ښی او لاندی فرعی مینوګانی لری.<br>• Font د خط فونټ راته ښی.<br>• Font style د خط سټایل راته ښی.<br>• Size د خط اندازه راته ښی. |

**View menu :** لیدلو ته ویل کیږی.او لاندی یوه مینو لری

| شماره | مینو | تشریح |
|---|---|---|
| 1 | Status bar | په اتومات ډول غیر فعاله وی خو د فعالولو لپاره یی Word wrap غیر فعالوو او دا راته ښی چی کرسر په لین او په کوم کالم کې دی. |

**Help Menu** کومک ته ویل کیږی او لاندی مینوګانی لری.

| شماره | مینو | تشریح |
|---|---|---|
| 1 | View help | په دی باندی کلیک کوو موږ ته زیات لینک را خلاصوی چی په هر کینک کې د Notepad د هری منیو په باره کې معلومات وی |
| 2 | About notepad | د Notepad په باره کې موږ ته معلومات را کوی. |

# WordPad

دا هم د لیکلو لپاره استفاده کیږی او په لاندی څو طریقو یی موږ راخلاصولی شوو.

1. Start->All program->Accessories->WordPad
2. Start->search->WordPad
3. Start->run->WordPad

په ټوله صفحه کې اولنی پټي ته quick access bar ویل کیږی دوهمی پټي ته tab menu ویل کیږی. دریمه پټه چی په هغه کې ټټنی ښکاریږی د ribbon په نوم یادیږی.چی دا بیا په څو برخو ویشل شوی دی چی هری برخی ته یی section یا group ویل کیږی.د صفحی په لاندینی برخه کې zoom controlموقیعت لری.د caption button لاندی د help button دی چی ددی پروګرام په باره کې معلومات پکې لیکل شوی دی.

**File Menu** دا منیو لاندی فرعی منیوګانی لری.

| تشریح | مینو | شماره |
|---|---|---|
| د WordPadنوی فایل راخلاصوی. | New | 1 |
| د WordPadمخکی ذخیره شوی فایل راخلاصوی. | Open | 2 |
| دWordPad فایل ذخیره کوی. | Save | 3 |
| دWordPad یو فایل په ډیرو نومونو ، ډیروځایونو او په ډیرو شکلونو باندی ذخیره کوی لکه notepad او په نورو شکلونو سره. | Save as | 4 |
| په دی مینو کې د پرنټر setting کیږی لاندی فرعی مینوګانی لری.<br>• Paper د کاغذ ډول راته ښیي.<br>• Size د کاغذ اندازه راته ښیي.<br>• Source پرنټر کاغذ له کوم ځای څخه راواخلی.<br>• Orientation په دی مینو کې د صفحی افقی او عمودی ډول ورته انتخابوو.<br>• Print page number ددی مینو په انتخاب سره د صفحو نمبری چاپ کیږی. | Page setup | 5 |
| دا مینو لاندی فرعی مینوګانی لری. | Print | 6 |

| | | |
|---|---|---|
| | | • Printداسې دی لکه دی notepad او یوازې یې pages انتخابیږی.<br>• Quick print که چیری د پرنټر setting مخکی له مخکی برابر وی نو په دی مینو باندی کلیک کوو او لیکنه پرینټ کیږی.<br>• Print preview د چاپ څخه مخکی د خط کتل چې څنګه ښکاریږی. |
| 7 | Send in email | لیکل په ایمیل باندی استول خو ددی کار د ترسره کولو لپاره MS Outlook ته ضرورت دی. |
| 8 | About WordPad | About WordPad ددی پروګرام په باره کې معلومات دی پکی. |
| 9 | Exit | په دی سره له پروګرام څخه وځو. |
| 10 | Recent Document | دا هغه فایلونه راته ښئ چې موږ په همدی پروګرام کې راخلاص کړی وی. |

Cut :: معلومات په مکمل ډول باندی له یوه ځای څخه بل ځای ته انتقالول.

Copy :: د انتخاب شوو معلوماتو څخه یوه کافی اخلی.

په Font section کې موږ د انتخاب شوی لیکنی فونټ زیاتولی شو، سایز یې زیاتولی شو، رنګ یې تغیر کولی شو، bold کولی شو، italic کولی یې شو، توان ته یې وړلی شو، قاعدی ته یې وړلی شو، د خط لاندی کرښه ورکولی شو ، د خط په اندازه باندی صفحی ته رنګ ورکولی شو او د خط پر سر باندی هم کرښه ایستلی شو.

په paragraph section کې د خط لیکل له ښي طرف څخه شروع کول، د خط لیکل له چپ طرف څخه شروع کول ، justify کول، په ډیره لیکنه کې یو پراګرف مخ او شاته وړلی شو، د لیست جوړولو لپاره کار ورڅخه اخستلی شو، د لیستونو تر منځ د فاصلو زیاتولی او کمولی شو.

- Past menu :: په عادي ډول باندی Past کولو لپاره استفاده کیږی. او لاندی مینوګانی لري.

| شماره | نوم | تشریح |
|---|---|---|
| 1 | Past | په عادی ډول باندی Past کوی. |
| 2 | Microsoft word document | د MS word په شکل یی past کوی خو په منځ کې یی کلیک نه کیږی. |
| 3 | Picture | یوه لیکنه د عکس په شکل راوړی. |
| 4 | Rich text | لیکنه د WordPad په شکل راوړی. |
| 5 | Unformatted text | د لیکلو سټایل او رنګ د past کولو په وخت کې ختموی. |
| 6 | Past link | د MS Word او د WordPad تر منځ اړیکه جوړوی. |
| 7 | Display icon | د Icon په شکل یی راوړی. |

- Paragraph button :: ددی بټن په داخل کې موږ کولی شو چې په یوه لیکنه کې یو پراګراف مخ او شاته یوسو او یا یو لین مخ او بل شاته وړلی شو د لینونو په منځ کې فاصله زیاتولی او کمولی شو د خط د کرښی له ښي ، چپ او منځ څخه شورع کولی شو .


♦ Tabs :: دا د Paragraph button په داخل کې دی او د فهرست جوړولو لپاره استفاده کیږی. طریقه یی داسی دی چې په Tabs stop position کې د صفحی د خط کش په اندازه باندی عدد ورکوو چې په صفحه کې د خط کش اندازه خومره وی په هغه اندازه باندی عدد هم ورکوو او د OK بټن وهوو ورسته چې موږ فهرست جوړو نو چې

کله عنوان ولیکوو او د Tabs بټن وهوو د ورکړل شوو عددنو په اندازه باندی وړاندی ځی چی مونږ بیا هلته د صفحی نمبر ورکوو.

- Picture :: یوی صفحی ته د عکس اخستلو لپاره استفاده کیږی. په picture باندی کلیک کوو چی په هر فولډر کې مونږ عکس اچولی وی هغه فولډر راخلاصوو اوعکس انتخابوو عکس بدلولی هم شو او سایز هم د همدی بټن په داخل کې تغیر کولی شو.
- Paint drawing :: د همدی بټن په واسطه باندی په WordPad کې pint راخلاصولی شو په Paint کې رسامی کوو او بیرته یی بندوو خو رسامی یی په WordPad کې پاتی کیږی.
- Date and time :: د وخت او تاریخ د سټایل لپاره استفاده کیږی.
- Insert object :: ددی بټن په کلیک کولو سره چی په کمپیوټر کې هر څومره پروګرامونه انسټال وی هغه راخلاصیږی چی هر ډول کار پکی وکړو WordPad ته یی د عکس یا Object په شکل راوړلی شو. هر کله چی مونږ د بل پروګرام لیکل یا عکس په همدی پروګرام کې راخلاص کړو نو Create for file انتخابوو د Brows له لاره هغه لیکنه یا عکس پیدا کوو او را خلاصوو یی په link باندی چی کلیک وکړو اړیکه ورجوړیږی ، او د icon په شکل یی مونږ هم راوړلی شو.
- Find ::ددی په واسطه باندی په ډیره لیکنه کې مونږ یو مشخص لغات پیدا کولی شو او Match case هم ورباندی عملی کولی شو. که چیری match whole word only انتخاب کړو بیا یوازی هغه لغات پیدا کوی چی مونږ ورته لیکی وی او دبل لغات کومه برخه نه وی یعنی یوازی مشخص لغات پیدا کوی.
- Replace:: ددی په واسطه باندی مونږ د یوه لغات پر ځای باندی بل لغات لیکلی شو په ټوله لیکنه کې یی په یوه وار هم عملی کولی شو او هم یی په جلا جلا ډول عملی کولی شو.

❖ View menu :: په دی مینو کې لاندی کارونه تر سره کولی شو.

- Zoom in  رانږدې کول
- Zoom out  ليرې کول ددې په څنګ چې بل ښن دی د هغه په واسطه باندې يې 100%رانږدې کولی شو.
- Ruler :: که انتخاب وی په صفحه باندې به خط کش ښکاريږی او که انتخاب نه وی بيا به په صفحه باندې خط کش نه ښکاريږی.
- Statas bar :: که انتخاب وی په صفحه باندې به Stats bar ښکاريږی او که انتخاب نه وی بيا به په صفحه باندې stats bar نه ښکاريږی.
- word wrap :: د ليکنی يو او بل طرف ته وتل کنټرولوی.
  - no wrap ::  ددی په انتخاب سره به ليکنه يو او بل طرف ته وزی.
  - wrap to window:: کله چې په يوه صفحه کې ليکنه د  window  اندازی ته رسيږی نو رانښکته کيږی دی.
  - warp to ruler:: د خط کش په اندازه دی ليکل کيږی يو او بل طرف ته د نه وځي.
- Measurement unit  :: د خط کش واحدات ښيي لکه  , inches, centimeter , pointes picas




quick access tool bar :: هغه ښنی پکی اچوو چې موږ يې زياتی استفاده کوو لکه save , undo او داسی نوری. د ښن د اضافه کولو طريقه يې داسی دی چې په باندی کليک کوو چې هر ښن مو خو باندی ښن وی هغه انتخابوو  او کومی ښنی چې له دی ځايه څځه نه وړل کيږی په هغه باندی right click کوو او  add  وهو د ليری کولو لپاره په ښن باندی کليک کوو او  Remove  ښن باندی زور کوو

Show below the ribbon په دی باندی کلیک وکړو د ribbon څخه یی لاندی راوړی او په minimize the ribbon باندی چی کلیک وکړو ribbon پټوي.

## Paint Programs

دا پروګرام د رسامی ، په عکسونو باندی د لیکلو او تبدیلی لپاره استفاده کیږی. یا هغه پروګرام دی چی د رسامی لپاره ابتدایی کارونه پکی تر سره کوو.او په لاندی دریو طریقو سره یی موږ راخلاصولی شو.

- Start menu → all programs → accessories → paint
- Start menu → search → MS paint
- Start menu → run → MS paint

په دی پروګرام کې لاندی مینوګانی موجودی دی.

- New:: د نوی صفحی د راخلاصولو لپاره استفاده کیږی.
- Open :: د مخکنی ذخیره شوی فایل د راخلاصولو لپاره استفاده کیږی.
- Save :: د فایل د ذخیره کولو لپاره استفاده کیږی.
- Save as :: یو عکس په ډیرو ځایونو ډیرو نومونو او ډیرو شکلونو سره ذخیره کولی شو.
- Print :: د عکس د پرنیټ کولو لپاره استفاده کیږی.
  - ♦ Page setup :: له دی ځای څخه د کاغذ سرچینه ، د کاغذ اندازه ورته مشخصوو. د کاغذ افقی او عمودی ډول هم ورته مشخصوو همدارنګه margin یی ورته انتخابوو چی عکس د صفحی په پاس سر کې وی ، په لاندی طرف کې او که د صفحی په منځ کې د وی.
    - ➢ Fit to ددی لپاره استفاده کیږی چی یو عکس په یوه صفحه کې وی او یادی دوه صفحو کې راشی.
  - ♦ Print preview :: په دی افشن کې عکس مخکی ګورو چی په پرنیټ کولو سره به عکس د کاغذ پر مخ څنګه ښکاریږی.
- From scanner or camera :: دا سی کار کوی لکه open دا افشن د scanner او camera په وصل کولو سره فعاله کیږی. خو دا به Digital وی.

- Send on email :: ددی په واسطه سره د MS outlook په فعالو سره یو عکس انتقالولی شو.
- Sat as desktop background :: جوړ شوی عکس په ډیسکټاف باندی لګولی شو.
  - ♦ Fill :: ټوله صفحه دی ور باندی ډکه وی.
  - ♦ Tile :: یو عکس دی څو ځله په یوه صفحه کې راشی.
  - ♦ Center :: عکس دی صفحی په داخل کې راشی.
- Properties :: د صفحی جګوالی ، پلنوالی ، د صفحی ساده او رنګه ښودل له همدی ځایه څخه کیږی.
- About paint د Paint په باره کې معلومات پکی دی.
- Exit :: ددی بټنی په وهلو سره له صفحی څخه وځوو.
- Recent picture :: هغه عکسونه چی موږ را خلاص کړی وی هغه په همدی ځای کې وی.
- د انتخاب لپاره له select څخه استفاده کوو هغه مستطیل په شکل سره کوو ورسته یی cut , copy او past کوو هر کله چی موږ وغواړو په خپله خوښه باندی انتخاب وکړو نو بیا د free-from-selection څخه استفاده کوو.
  - ♦ Invest selection :: کله چی دا افشن انتخاب کړو په عکس چی موږ کوم ځای انتخاب کړو هغه به نوی انتخاب شوی هغه پاتی ځای به انتخاب شوی وی.
- Crop :: له یوه عکس څخه بل منظم عکس د جوړولو لپاره استعمالیږی. یا له یوه عکس څخه د اضافی شیانو دلیری کولو لپاره استعمالیږی.
- Resize :: ددی په انتخاب سره د عکس سایز د فیصدی او pixels په اندازه سره کمولی او زیاتولی شوو افقی او عمودی یی په اتومات ډول سره کمیږی او زیاتیږی.که چیری یی موږ داسی نه غواړو یعنی یوازی عمودی یا افقی دی کم یا زیات شی maintain a spectator څخه مارک لیری کوو. عکس په افقی او عمودی ډول د زاویی په اندازه یوی او بلی خواته څرخولی شو.
- Rotate :: د عکس تاتوالی یو بلی خواته کوی.د 180او vertical flip دا فرق دی چی په یوه اندازه تاویږی خو مخ یی یوی او بلی خواته وی flip horizontal ښی طرف چپ او چپ طرف ښیی ته وړی.
- Cut:: cut دا دوه وظیفی لری.

- ♦ که په یوه عکس کې مو کوم ځای نه وی خوښ هغه انتخابوو او cut وهو هغه ځای له منځه څخه وړی.
- ♦ که چیری موږ یو څه اندازه لیکنه کړی وی او له موږ څخه ګډه وډه شی موږ غواړو چی هغه برابره کړو نو د cut په واسطه باندی یی له یوه ځای څخه بل ځای ته په اسانی سره وړبلی شو.
- Copy :: کله چی موږ یو څه اندازه لیکنه وکړو غواړو چی څو ځایه یی انتقال کړو الیکنه انتخابوو او په خپل ځای هم پاتی شی نو هغه لیکنه انتخابوو او په Copy باندی کلیک کوو او څو ځای چی موږ غواړو انتقالولی یی شو.
- Selection :: موږ په څو ډوله باندی یوه لیکنه او یا عکس انتخابولی شو.
- ♦ Rectangular selection::که د موږ په خپله لیکنه او یا رسامی کې کوم ځای خوښ نه وی موږ هغه انتخابوو او ورسته یی copy , cut او delete کولی شو.
- ♦ Tree-from selection :: په خپله خوښه سره په لیکنه یا عکس کې انتخاب کوو.
- ♦ Select all :: ددی په واسطه سره کولی شو چی په یوه صفحه کې څومره لیکنه او یا عکسونه وی ټول انتخابولی شو.
- ♦ Invert selection :: ددی افشن په انتخاب سره چی موږ کله دیوی لیکنی او یا رسامی انتخاب کوو هغه ساحه چی موږ یی انتخاب کړو او deleteکول یی وغواړو هغه به delete کیږی هغه به delete کیږی چی موږ نه وی انتخاب کړی. یعنی دا د عادی selection خلاف کار کوی.

❖ Tools section:: په دی مینوکې لاندی شیان موجود دی.

- Panicle :: ددی په واسطه سره موږ کولی شو چی په paint کې رسامی وکړو د size له لاری یی اندازه کمولی او زیاتولی شو د brushes په داخل کې مختلف برشونه موجود دی چی د هر یوه رنګونه یی موږ بدلولی شو.
- Eraser :: ددی په واسطه باندی موږ د paint رسامی پاکولی شو د size له لاری یی اندازه غټولی او کمولی شو یا یی غټوالی په ++Ctrlسره کوو او کموالی یی په -+Ctrl باندی کوو.
- Fill with color :: ددی په واسطه باندی یوه شکل یا رسم ته رنګ ورکولی شو.
- Magnifier :: ددی په کلیک کولو سره عکس رانږدی کیږی.

- Color picker :: د یوه عکس څخه داسی رنګ را اخلو چی هغه د paint په رنګو کې نه وی بل عکس یا شکل ته یی ورکوو.
- Text :: ددی په انتخاب سره موږ کولی شو چی د عکس د پاسه لیکل وکړو.
  - ♦ Opaque :: په عکس باندی چی لیکل وشی د هغه بکس رنګ دی سپین وی.
  - ♦ Transparent :: یوازی نوری د عکس له پاسه ښکاره شی د هغه بکس رنګ د نه معلومیږی چی لیکل پکی کیږی.
  - ♦ Color2 :: د بکس رنګ بدلوی.
  - ♦ Color1 د لیکلو رنګ بدلوی.
- Outline :: په دی کې موږ د عکس د کرښو رنګونه بدلولی شو.
- Fill :: په دی سره موږ د عکس د background رنګ بدلولی شو.
- Edit color ::ددی په واسطه باندی موږ د خپلی خوښی وړ رنګ جوړولی شو.

❖ View menu :: په دی کې لاندی مینوګانی شاملی دی.

- Zoom in :: عکس را نږدی کوی.
- Zoom out :: عکس لیری کوی.
- Ruler ::ددی په انتخاب سره د صفحی په سر باندی خط کش ښکاره کیږی.
- Grid line:: په صفحه باندی کوچینی کوچینی خانی وباسی.
- Stats bar :: په انتخاب سره یی stats bar ښکاره کیږی.
- Full screen :: عکس دی په مکمل سکرین باندی ښکاره شی.
- Thumbnail :: عکس غټ خو غواړو چی کوچینی یی ووینو.

## Right click

په دی کې لاندی مینوګانی شاملی دی.

- View :: لیدلو ته ویل کیږی یعنی د Desktop Icon په څو ډوله ښودلی شی لکه small icon , medium icon , large icon
  - ♦ Auto arrange icons :: ددی په انتخاب سره icon په اتومات ډول ترتیبیږی icon ورسته او مخته ځی خو غیر منځ نه پاتی کیږی.

- ♦ Align icon to grids :: ددی په انتخاب سره icon په افقی او عمودی ډول سره ترتیبیږی او یو د بل د پاسه نه راځي
- ♦ Show desktop icon :: که چیری موږ وغواړو چی په desktop باندی icon پټ کړو نو بیا دا افشن غیر فعالوو.
- ♦ Show desktop gadgets :: له desktop څخه gadgets پټووی
- Sort :: ترتیبولو ته ویل کیږی یعنی په desktop باندی دی icon له Z→Aپوری او یا له A→Z پوری دی ترتیب وی.
- ♦ Name :: د desktop icon د الفبأ تورو په ترتیب باندی ترتیب شی چی د سیستم icon ځانته ترتیب شی فولډر یی ځانته ترتیب شی او فایلونه یی ځانته ترتیب شی . چی په دوهم کلیک سره دا ترتیب سرچپه کیږی.
- ♦ Size :: د سایز په اندازه دی ترتیب شی یعنی چی د کوم Icon ندازه زیاته وی هغه دی د Desktop سرته یوړل شی.
- ♦ Item type :: په قیسم سره ترتیبول یعنی د هر پروګرام فایلونه د یو په بل پسی ترتیب شی.
- ♦ Date modified :: د تاریخ په نظر کې نیولو سره دی ترتیب شی یعنی نوی icon به د صفحی په سرکی وی.
- Refresh :: ددی په کلیک سره سیستم تازه کیږی او یا هم F5 بټن سره تازه کیږی.
- Past :: د فایلونو او فولډرونو له یو ځای څخه بل ځای ته د وړلو لپاره استفاده کیږی.
- Past shortcut :: عکس دی نه رواړی یوازی shortcut یی راوړی.
- Undo copy :: کومه Copt دی چی کړی وه هغه له منځه یوسه

Graphics properties او graphics option موږ ځکه نه وایو چې د سکرین د رنګونو setting دی او دا د کمپنۍ لخوا څخه په صحیح ډول سره راغلی دی بل دلیل یې د نه ویلو دادی چې دا د هر کمپوټر لپاره جلا جلا وی او ددو یا څو کمپیوټرونو لپاره یو ډول نه وی.

- Screen resolution :: دا ددی لپاره استعمالیږی چې کله موږ کمپوټر ته windows وکړو اکثره وخت صفحه نیمایی ښکاریږی نو بیا یی موږ له همدی ځای څخه برابرولی شو.
- New :: ددی په واسطه سره موږ نوی فولډرونه یا د هغو پرګرامونو لپاره چې زموږ په کمپیوټر کې انستال وی نوی فایلونه جوړولی شو.
  - ♦ Folder ددی په واسطه باندی موږ نوی فولډرونه جوړولی شو.
  - ♦ Shortcut :: ددی په واسطه سره موږ یوه فایل ته اړیکه جوړو چې بیا په هغه اړیکه باندی کلیک وکړو د Browser له لاری فایل انتخابیږی او راخلاصیږی.

د یوه فولډر د پټولو لپاره لاندی عملیه اجرا کوو.

Folder right click→properties → mark the hidden option →apply →ok

کله چې یو فولډر پټ کړو بیرته د ښکاره کولو لپاره یی لاندی مرحلی په نظر کې نیسو.

Tools → folder option → view →show → apply → ok

- Personalize :: د کمپیوټر د سکرین د عکس بدلولو لپاره استعمالیږی هغه عکسونه چې موږ ورته انتخاب کړی وی په ترتیب سره بدلیږی.د عکس د بدلیدو وخت هم موږ ورته انتخابوو د shuffle په انتخاب سره یی عکسونه په غیر ترتیب سره بدلیږی.که وغواړو چې یوازی ساده رنګ دی وی نو بیا picture location ته ځو او soled color انتخابوو له دی څخه ورسته د خپلې خوښې وړ رنګ انتخابوو. که وغواړو چې خپل عکسونه ور باندی ولګوو بیا picture library انتخابوو د browse له لاری هغه فولډر ته ځو چې زموږ عکسونه پکی وی

- Windows color ::له دی ځای څخه د وینډوز رنګونه انتخابولی شو.
- Sounds :: د کمپیوټر هر کار چی ترسره کیږی د هغه لپاره ځانګړی اوازونه وی هغه اوازنو له همدی ځای څخه انتخابولی شو.
- Chand desktop icon :: له دی ځای څخه د کمپیوټر د سکرین ځینی icon لکه PC , user , network او داسی نور راوړلی شو. په change icon کې د سکرین د icons شکلونه بدلولی شو.په restore default باندی چی کلیک وکړو بیرته icon خپل اولنی حالت ته راځي.
- Ease of access center :: ددی په کلیک سره لاندی افشن راخلاصیږی.
  - ♦ Start magnifier ::په دی سره سکرین را نږدی کیږی.
  - ♦ Start on-screen keyboard :: په دی سره کیبورډ راخلاصیږی.
- Screen saver :: چی کمپیوټر سره څوک غرض ونه کړی نو داسکرین saver ور باندی applyکړو چی وخت یی موږ ورته مشخصوو. د on resume display logon screen چی مارک کړو موږ logon سکرین ته بیایی د خپلو عکسونو د انتخابولولپاره setting ته ځو او د brows له لاری خپل عکسونه ور ته انتخابوو که وغواړو چی خپل نوم یا بل څه پکی ولیکو بیا T3D text انتخابوو setting ته ځو او په custom text کې خپل نوم ورته لیکو سایز او سټایل هم ورته انتخابولی شو د څرخیدو طرف ، سرعت ، رنګ او یوی خواته انعکاس هم ورته ورکولی شو.
- Taskbar and start menu ::د taskbar , start menu او toolbar لپاره setting دلته کوو.
  - ♦ Task bar :: له همدی ځای څخه د task bar setting کوو.
    - ▪ Lock the taskbar :: ددی په انتخاب سره taskbar lock کیږی له یوه ځای څخه یی بل ځای ته نشو انتقالولی چی کله یی غیر فعال کړو بیا په کلیک سره له یوه ځای څخه بل ځای ته انتقالولی شو.

- Auto-hide taskbar :: ددی په انتخاب سره taskbar په اتومات ډول باندی پټیږی چی غیر فعال شی بیا نه پټیږی.
- Use small icon :: ددی په مارک کولو سره د taskbar icon کوچینی کیږی
- Taskbar location on screen:: له دی ځای څخه موږ د سکرین هری برخی ته taskbar انتقالولی شو.
- Taskbar button :: یو پروګرام چی په taskbar باندی پروت وی او څو واری را خلاص شوی دی هغه د یوه بټن لاندی هم راځی او هر یو جلا جلا هم راځی او یاهم داسی چی کله taskbar ډک شی بیا د یو ځای شی کنه نو جلا جلا دی وی.
- Notification area :: له دی ځای څخه دپه notification area کې ساعت ، نیټورک ، بټری ، د اوازو علامه او action center راوستلي او بندولی شو طریقه یی داسی دی چی په customize باندی کلیک کوو او turn system icon on or off باندی کلیک کوو چی خوښ مو وی on کوو یی او یایی off کوو په restore default icon behaviors باندی بیرته خپل اصلی حالت ته راځی. Always show icon appear on the taskbar په دی افشن باندی کلیک کوو هغه شیان چی موږ غواړو په notification areaکې ښکاره شی هغه On کوو او هغه چی په دی area کې د نه ښکاره کیږی هغه off کوو use aero peek to preview the desktop ددی په انتخاب سره د مخت او تاریخ په څنګ کې کوچینی بټن دی هغه چی موس ور نږدی کړو راخلاص شوی پروګرامونه داسی ښکاره کوی لکه ښیښنه شاته desktop ورڅخه ښکاریږی او په غیر فعالولو سره بیا داسی نه کیږی.

• Start menu ::په دی کې customize ته ځو هغه icon چی په start menu کې دی هغه په دری ډوله سره ښکاره کولی شو

  - د اړیکی په شکل یی ښکاره کړه

- د لیست په شکل یی ښکاره کړه
- او هیڅ یی مه ښکاره کوه.

خو ځینی یی بیا یوازی on او off لری لکه Run او داسی نور

- Toolbar :: په دی کې لاندی کارونه تر سره کیږی.

♦ Address :: ددی په فعالول سره د address د search کولو لپاره taskbar نه راوړی.

♦ Desktop :: ددی په فعالولو سره taskbar ته د desktop په نوم باندی افشن راځی په desktop باندی چی کوم icon , folder او یا نور څه وی ټول راته ښکاره کوی.او یا هم په taskbar باندی کلیک کوو toolbar ته ځو له همدی ځای څخه یی هم راوړلی شو.

که چیری موږ وغواړو چی څو پروګرامونه په یوه وخت کې راخلاص کړو او ټول په یوه وار په Desktop باندی ووینو نو په taskbar باندی right click کوو او cascade window باندی کلیک کوو چی دا یو په بل باندی له پاسه ښکاره کیږی. چی په show window stacked باندی کلیک وکړو بیا ټول پروګرامونه یو د بل څنګ ته په افقی ډول ښکاره کوی . او چی په show window side by side باندی کلیک وکړو ټول راخلاص شوی پروګرامونه څنګ په څنګ ښکاره کوی.

- Power option :: په بیطری باندی right click کوو چی د برق د استعمال لپاره دی .
- Balanced (recommended) ::توازن به یی برابر وی ددی په داخل کې change plan setting ته ځو او لاندی کارونه ترسره کوی.

- Dime the display :: چی له کمپوټر سره غرض ونګړی د کمپوټر روښنایی دی په خپله کمه شی. د بطری او برق دواړو لپاره جلا جلا برابریږی.
- Turn of the display :: کمپیوټر سره چی غرض ونګړی کمپیوټر په مکمل ډول باندی بند کړه.

- Put the computer sleep :: چی له کمپیوټر سره غرض ونګړی کمپیوټر په مکمل ډول بند کړه.
- Start :: په دی کې لاندی مینوګانی موجودی دی.
- Default program :: په دی کې لاندی افشن وجود لری.
- Set your default program :: انټرنیټ د استعمال لپاره د media player او نورو پروګرامونو په default ډول انتخاب لپاره استعمالیږی. ددی لپاره په set this program as default باندی کلیک کوو.
- Device and printer :: هغه الات راته ښیی چی له کمپیوټر سره له خاج څخه وصل شوی وی.

# Control panel

یوه کمپیوټر ټول کنټرول له همدی ځای څخه کیږی. یعنی یو کمپیوټر په مکمل ډول له دی ځای څخه موږ کنټرولولی شو.

- Bitlocker drive encryption :: دا ددی لپاره استفاده کیږی چی د کمپیوټر په یوه ته drive فاسورډ ورکړو د فاسورډ ورکولو طریقه یی داسی دی چی په turn on Bitlocker باندی کلیک کوو use password انتخابوو فاسورډ ورکوو او next وهو. د recovery لپاره یی save کوو او یایی پرنیټ کوو ورسته next وهو. بیا start encryption باندی کلیک کوو که چیری تغیر پکی راولو نو په unlock drive باندی کلیک کوو فاسورډ ورکوو په manage Bitlockerباندی کلیک کوو فاسورډ یی تغیرکولی شو، له منځه څخه یی وړلی شو، smart

card وراضافه کولی شو، save کولی شو او داسی نور کارونه هم پکی تر سره کولی شو. که چیری په automatically unlock باندی کلیک وکړو بیا چی په همدی user باندی څوک کمپیوټر ته داخل شی Bitlocker په اتومات ډول ورته راخلاصیږی خو که په بل user باندی داخل شی بیا نه ورته راخلاصیږی. د Bitlocker د لیری کولو لپاره په decry drive باندی کلیک کوو او Bitlocker له منځه ځي.

- Desktop gadgets :: ددی په واسطه باندی gadgets په Desktop باندی لګولی شوو.
- Flash player :: ددی لپاره استفاده کیږی چی اکثره وخت که څوک په YouTube کې ویډیوګانی ګوری هغه نه play کوی نو بیا دا انسټالوو چی ویډیوګانی play شی.
- Recovery :: که چیری موږ یو پروګرام په خپل کمپیوټر کې انسټال کړو او زموږ کمپیوټر خراب کړی نو ددی لپاره کمپیوټر هغه وخت له ځان سره ساتی چی تغیرات پکی راغلی وی او دا وخت د resto point په نوم یادیږی نو له هغه وخت څخه موږ خپل کمپیوټر بنه برابرولی شو خبل کمپیوټر recovery کوو طریقه یی داسی دی چی په recovery باندی کلیک کوو open system restore یاهغه وخت چی موږ خپل کمپیوټر هغه وخت ولوو هغه انتخابوو او په next باندی کلیک کوو چی په دی سره به زموږ کمپیوټر restore شی
- Programs and features :: هغه ټول پروګرامونه چی موږ په خپل کمپوټر کې انسټال کړی و ی همدلته موږ ته ښکاریږی. همدارنګه یو پرګرام له همدی ځای څخه Uninstall کولی شو.
- Folder option :: یو فولډر له همدی ځای څخه ښکاره کولی او پټورلی شو.
- Personalize :: ددی په واسطه باندی د background رنګ تغیر کولی شو.
- Region and language :: له دی ځای څخه یوه ژبه خپل کمپیوټر ته وراضافه کولی او لیری کولی شو.

- ♦ Format عددونه چې له ژبې څخه بلې ژبې ته اړو نو په لاندې طریقه یې اړو په setting addition باندې کلیک کوو په use native digits کې national انتخابوو او په standard digits کې د پښتو یا درې عددونه ورته انتخابوو.
- ♦ Keyboard and language:: د ژبې د اضافه کولو لپاره استفاده کیږي د اضافه کولو طریقه یې داسې دی چې change keyboards ته ځو په add باندې کلیک کوو او د خپلې خوښې وړ ژبه ورته انتخابوو apply او ok وهوو.

- System :: د کمپیوټر د مشخصاتو د کتلو لپاره استفاده کیږي.
- Windows defender :: د هغو پرگرامونو د انسټال مخه نیسي چې زموږ د کمپیوټر windows خرابوي. لکه ویروسونه او داسې نور.
- Windows firewall :: دا د windows لپاره یو دیوال دی د هغو پروګرامونه چې Microsoft سره register نه وي هغه انسټال ته نه پریږدي.
- Mouse :: له دې ځای څخه د موس لپاره setting کولی شو.

- ♦ Button :: په button configuration کې چې مارک کړو د ښی بټن وظیفه چپ او د چپ بټن وظیفه ښی بټن ته اوړي.
- ♦ Double click speed :: په دې سره د Double click سرعت زیاتیولی او کمولی شو.
  - ▪ Turn on click lock :: په یوه صفحه باندې چې کلیک وکړې هغه ورپورې نښلي او هر ځای ته یې انتقالولی شو .
- ♦ Pointer :: د موس شکلونه ورباندې بدلولی شو چې دا شکلونه په Brows کې ډیر زیات دی.
  - ▪ Pointer shadow :: ددې افشن په enable کولو سره pointer سیوری پیدا کوي.

- Pointer option:: د Pointer سرعت له دی ځای څخه زیاتولی او کمولی شو.
  - Enhance pointer precision :: ددی په مارک کولو سره د موس حرکت منظمیږی که چیری مارک نه بیا موس ټوپ،نه وهی.
  - Snap to :: ددی په مارک کولو سره به موس خپله د Ok بټن ته ځي.
  - Display pointer trial :: ددی په مارک کولو سره چی موس ته حرکت ورکړو څو دانی موسونه به ښکاریږی.
  - Hide pointer while typing :: چی کله لیکنه کوو موس دی په خپله باندی پټیږی.
  - Show location of pointer when I press control button :: ددی په انتخاب سره چی کله د CTRL بټن ووهو موږ ته د موس موقیعت ښیي.
  - Wheel :: په دی سره موږ لیکنه ښکته او پورته وړلی شو.
  - The following number of line vertical: ددی په انتخاب سره موږ ته دا ښیي چی د موس د منځنی ګاډی په یو ځل اړولو سره دی څو لینه لیکنه اوړی.
  - On screen on time :: ددی په انتخاب سره یو صفحه لیکنه اوړی.
  - Horizontal :: ددی په انتخاب سره موږ ته داښیي چی موس د څو حرفه واوړی.
  - Hardware :: په دی سره موږ ته د موس فزیکی حالت معلومیږی.
- Auto play:: ددی لپاره دی چی موږ کمپیوټر ته CD ور واچوو په اتومات ډول دی هغه راته Play کړه.
- Font :: په دی کې د لیکلو سټایل دی کوم چی په کمپیوټر کې انسټال وی له دی ځای څخه یی موږ delete کولی هم شو.
- Display::ددی په واسطه سره موږ خط یو څه اندازه رانږدی کولی شو.
- Date and time :: په دی مینو کې موږ د خبل کمپیوټر وخت او تاریخ برابرولی شم.

- ♦ Date and time :: د وخت د برابرولو لپاره باید time zone کابل وټاکوو د انتخابولو لپاره یې change time zone ته ځو او په time zone کې یې انتخابوو
  - ▪ Change date and time :: ته ځو او وخت برابروو
- ♦ Additional clock:: له دې ځای څخه د مختلفو هیوادنو وختونه کتلی شو.
- ♦ Internet time :: هرکله چې موږ انټرنیټ ته وصل شو په اتومات ډول باندې باید وخت برابر شي.

- Keyboard :: په دې کې د کیبورډ setting کولی شو.
  - ♦ Speed :: په دې کې د repeat delay ددې لپاره استفاده کیږی چې د تورو د delete کولو لپاره چې موږ کله backspace ووهو د تورو د delete کیدو وخت کموی.
    - ▪ Repeat rate :: د Delete کولو وخت د حرفونو تر منځ زیاتوی
    - ▪ Cursor blank rate :: د کرسر د ښوریدو وخت زیاتوی اوکموی.
  - ♦ Hardware :: د کیبورډ وخت را ته ښیی چې ښه کار کوی او که نه یې کوی.
- Backup and restore :: د ډیټا یا معلوماتو د backup یا copy اخستلو لپاره استفاده کیږی د معلوماتو بیرته را اخستلو لپاره restore استفاده کیږی.
- Speech recognition :: دا داسې پروګرام دی چې په انګلیسی باندې خبرې ورته وکړې هغه ولیکی.
  - ♦ Text to speech :: چې خبرې ورته ولیکو هغه راته تلفظ کوی.
- Windows update :: په دې سره چې windows ته نوی خصوصیات ور اضافه شوی وی هغه ورسره راځی زموږ windows ته. د بندولو لپاره یې ور باندې کوو او change setting ته ځو never انتخابوو.

- User account :: ددی لپاره استفاده کیږی چی له یوه کمپیوټر څخه څو users کار واخلی.باید هر یو خپل account ولری ددوو او یا څو users تر منځ desktop , download , recent picture , Document , place او videos فولډرونه مختلف وی څو drive یی یو ډول وی.
  - ♦ Manage another user account :: ددی په واسطه سره نوی user account جوړولی شو بغیر له اول user څخه په نور ټول user standard وی ځکه چی administrator به اولنی وی اودا مکمل اختیارات لری څو standard بیا مکمل اختیارات نلری.
  - ♦ Guest user account ::هغه account دی چی د یو څوک له سیستم څخه د کم وخت لپاره کار اخلی هغه له دی ډول accountڅخه استفاده کوی. د یوه user نوم ، فاسورډ ، عکس ، ډول تغیر کولی شو او هم یی په مکمل ډول له منځ څخهوړلی شو .
- Parental control ::موږ چی هر user وغواړو په هغه باندی پالیسی apply کولی شو د on بټن وهو دری واړه پالیسی ور باندی عملی کولو شو لکه د وخت پالیسی ، د ګیمومو پالیسی او د پرګرامونو پالیسی.
  - ➢ **Switch user** له یوه user څخه بل user ته اوړو په داسی ډول چی پرګرام هم نه بندیږی او کمپیوټر هم نه بندیږی.
  - ➢ **Log off** :: user account او پرګرام بندیږی څو کمپیوټر نه بندیږی
  - ➢ **Lock** :: د کمپیوټر د lock کولو لپاره استعمالیږی څو بندیږی نه.
  - ➢ **Restart** :: ددی استعمال پخوا ډیر زیات وه لکه په windows 98 چی کله به موږ کمپیوټر ته فلش ور واچوه تر هغه به یی کار نه کاوه چی restart شوی به نه وه.همدارنګه موس هم دا کار کاوه.

- **Sleep** :: پروګرام بندیږی خو کمپیوټر ویده کیږی.چي زیات وخت له کمپیوټر څخه ځو نو کمپیوټر باید sleep کړو چی داسی ښکاره شی لکه بند او هم برق کم مصرف کړی.
- **Hibernate** :: دا ډیر مهم دی په عاجل وخت کې استفاده کیږی.ددی سره په کلیک کولو باندی را خلاص شوی پروګرامونه د موقت وخت لپاره save کیږی خو کمپیوټر په مکمل ډول سره نه بندیږی چی کله کمپیوټر بیرته روښانه کړو خلاص پروګرامونه موږ ته بیرته ښیی.

# له توجه څخه مو نړۍ مننه